پوهنمل حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۷/۰۴/۱۲

# زیری: د کشتمند د تهمتونو ضد کتاب له چاپه ووت

## (څلورمه برخه)

کارغه ځان لکه طاؤس مابنام کي و ښود
خو سهار یې راز ښـــرګند شو له رفتاره

(د س. کلیوال له خوا د یوه دری شعر له پښتو ژباړي نه)



**( په تیرو شوو برخو کي د کشتمند د څیري د لا ښه پیژندلو په موخه ، دا هم یاده سوه ، شورویانو چي کله یې د افغانستان په هکله د خپل شپاړسم جمهوریت خوبونه په اوبو کي لاهو ولیدل ، نو یې ددې هیواد د تجزیې پلان تر لاس لاندي و نیو او سلطانعلي کشتمند ته یې ددې کار د عملي کولو چاري و سپارلي . پدې اړه دا هم یاده سوه چي کشتمند څنګه دسیسه جوړه کړی وه څو د اساسي قانون د لاري د هیواد د تجزیی د پاره حقوقي بنسټونه جوړ کړي . په ننګرهار کي د روسانو پلاس د یوې غریبي کورني د تول وژني په ناورین کي د انترناسیونالیست کشتمند شرمونکی درېز هم په تیرو برخو کي په ګوته سو. )**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د موضوع د غځولو نه مخکي اړينه بولم د لوستونکو نه بخښنه و غواړم چي د ليکني دغه برخه مي د اوږده ځنډ وروسته تر لاسه کوي . ددې کار لامل دا وو چي د يوه کور نه بل ته د کډي کولو په کار اخته وم او د روتين ژوند نوري ټولي چاري ټکنی پاته وې . پهر حال دا هم د هيواد د ملي شتمنيو په هکله د کشتمند د ناوړه کړنو يوه بله بيلګه:
څه موده پخوا پدې اړه چي کشتمند څنګه د هيواد ملي شتمني د خپل مقام قرباني کول ، ما په خپله يوه ليکنه کي د عينک د مسو د کان په باره کي يوه کيسه ياده کړيوه . ددغي اوسنی ليکني د تيرو برخو تر لوستلو وروسته ، يوه انډيوال مي چي ښايي هم هغه زما ليکنه به يې لوستي وه ، رانه په تليفون کي غوښتنه وکړه چي د کشتمند د ناخوالو په هکله هغه کيسه هم پدې لړۍ کي ور زياته کړم . هغه کيسه داسي وه:
د عينک د مسو کان د ۱۳۵۲ کال د چنګاش پر ۲۶ د سردار محمد داؤد خان په مشرۍ د کودتا څو هفتي وروسته د افغاني او شوروي انجينرانو د يوه ګډ ګروپ لخوا په تصادفي ډول کشف شو . د تصادف کلمه مي دلته ځکه راوړه چي د ګروپ موخه د کان لټول نه ، بلکه د جيولوجيکي نقشي بشپړولو پخاطر عمومی سروې وه . پدې توګه ددې کان موندنه نوي جمهوري نظام ته يوه ډيره په زړه پوري ډالی و ګرځيده . د کان د موندني سره سم د هغه اکتشافي کارونه تر لاس لاندي و نيول سوه . د ۱۳۵۷ کال د ثور د اوومي نيټي د نظامي پاڅون تر بريا وروسته د څو مياشتو په موده کي د عينک د مرکزي برخي اکتشافي کارونه خلاص او زيرمي يې محاسبه سوې . په پام کي وه چي د استخراج په اړه يې د شوروي اتحاد سره درنګه متالورژۍ د کمبينات ( کومپلکس ، مجتمع ) پخاطر قرارداد لاسليک سي . د جمهور رئيس نور محمد تره کي او لومړي وزير حفيظ الله امين د پرله پسې ټينګار سره سره شورويانو دا کار په يوه يا بله بهانه ځنډاوه . مګر د ۱۳۵۸ کال د جدي د شپږمي نيټي ( ۱۹۷۹ ) تر يرغل وروسته يې دا موضوع جدي ونيول او په ۱۹۸۰ کي يې د اړوند قرارداد د طرحي په ترڅ کي د معدن د تخنيکي ـ اقتصادي ارزوني اومليک د صدراعظم ( کشتمند ) د دفتر د لاري د کانو او صنايعو وزارت ته را وليږه . پدې طرحه کي شورويانو د افغان لوري د پخواني غوښتنو په خلاف د ( متالورژۍ کمبينات ) پر ځای د ( غني سازۍ کمبينات ) په پام کي نيولی وو. د لوستونکو د ذهن د روښانولو پخاطر پکار ده ددې دوو کمبيناتو تر منځ توپير روښانه کړم . په متالورژي کمبينات کي بايد د کاني ډبرو څخه خالص مس تر لاسه او دغه مس د تختو په بڼه شوروي اتحاد ته صادر سوي وای . ددې طرحي ګټه دا وه:
الف ـ مس د خالص وزن له مخي بيله دې چي د قرارداد کوم اړخ متضرر سي يا د يو بل په سترګو کي خاوري و پاشل سي ، صادريږي.
ب ـ پدې پروسه کي ډير کارګران په کار لويږي چي نژدي ټوله بايد د همدې هيواد خلک وي.
ج ـ تر ټولو مهمه ګټه يې داده چي د عينک په کان کي د مسو د فلز برسيره يو شمير نور ګټور فلزات لکه نقره ، طلا ، کوبالت او نور په ټيټه پيمانه شتون لري چي په اوسنی تخنالوژي سره يې را ايستل ګټور ندي مګر دغه فلزات په تفاله کي همدلته پاته کيږي او هر وخت چي تخنالوژي لا نوره مخته ولاړه ، کيدلای سي په لږ لګښت سره دغه زيرمه سوي فلزات هم استخراج او کار تري واخيستل سي.
د ـ په صنايعو کي د خالصو مسو څخه د ګټي اخيستني په موخه کيدلای سی په هيواد کي اړوندي فابريکي منځته راسی . په تيره بيا د برقي لين غځولو له درکه افغانستان پر خپلو پښو دريدلای سي.
د غني سازۍ په کمبينات کي بيا د خالصو مسو استخراج مطرح ندي او په مسو باندي بډايي ( غني ) ډبری جدا کيږي او همدغه ډبري چي په حقيقت کي خام مواد دي ، شوروي ته ليږل کيږي . پدی حالت کي افغاني کارګران لږ په کار لويږي او دا چي افغانستان خپل تکړه ماهران او د محاسبي کوټلي سيستم نلری د هر ډول تير ايستلو امکانات ډير وي . پدې توګه اصلي ګټه د شوروي خزاني ته ځي ، هلته د هغوي په متالورژي فابريکو کي خالص مس تري نه تر لاسه کوي ، او هغه نور ضمني فلزات په تفاله کي د دوي سره زيرمه کيږي.
کله چي د تخيکي ـ اقتصادي ارزوني طرحه وزارت ته را ورسيدل ، بايد دلته د يوه کميسيون لخوا څيړل سوې او تائيد سوي وای . پدې وخت کي زه د خپل مسلک سره سم د کانو او جيولوجيکي سروې رئيس وم او دغو ټولو کارونو نيغه اړه را پوري درلوده . د کانو او صنايعو وزير محترم محمد اسماعيل دانش وو . د هغه سره مي د قرارداد دغه نقص مطرح کړ . هغه ته چي د وطن لوړي ګټي تر هرڅه مهمي وي ، زما سره يې قناعت وکړ او ويې ويل چي په کميسيون کي به داسی کسان و ټاکو چي ددغي موضوع په اهميت پوه وي . همداسی مو وکړه ، مګر شورويانو د کميسيون وړانديز و نه مانه او د کشتمند د لاري يې پر وزارت فشار راوړ څو هر څه ژر د قرارداد طرح چي دده په نظر يوه ساده فورماليتي وه ، تائيد او ور وليږي . کميسيون هم په يوه او بله پلمه دا کار ځنډاوه . زما سرمشاور چي اخريميوک نوميده ، د داؤد خان د واکمنی له وخته همدلته کارکاوه . دی پخوا په جيولوجيکي چارو کي د شوروی د صدراعظم الکسي کاسيګين مشاور او د برژنيف سره د هغه په ترينګلو مناسباتو ښه خبر وو او له همدې کبله يې د برژنيف څخه نفرت درلود . دی يوه ورځ ماپښين زما دفتر ته راغی او راته يې وويل چي نن شپه تلويزيوني خبرونه واوره . ما تري و پوښتل چي خيريت خو به وي ، هغه وويل خيريت خو دی مګر تاته به د خوښي نه بلکه د حيرانتيا وړ وي . په تلويزيون کي مي وليدل او وارويدل چي نن د افغانستان دموکراتيک جمهوريت صدراعظم رفيق سلطانعلي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کشتمند د درنو تشريفاتو په ترڅ کي د شوروي اتحاد د د سفارت د اقتصادي مستشار سره دعينک دمسو کان د استخراج او غني سازۍ کمبينات قرارداد لاسليک کړ.

دلته ځو خبري مهمی دي : اول دا چي ښاغلي کشتمند د هيواد ګټي د خپل مؤقف او ګټو قرباني کړي . دويم دا چي د وزارت د کميسيون پر نظر يې ناړي تو کړي . دريم داچي د ديپلوماسۍ او د هيوادونو تر منځ يې د اړيکو منل سوی اصول تر پښو لاندي کړه . څلورم ـ ده حق نه درلود څو د کانو او صنايعو وزارت د مسلکي ټيم د نظر اخيستلو پرته دا قرارداد لاسليک کړي . پنځم ـ نوموړی تړون بايد د پروتوکولي مناسباتو له مخي د کانو او صنايعو وزير د شوروي سيال وزير سره لاسليک کړی وای چي هغه مهال يې وزير کازلوفسکي وو . شپږم ـ د ديپلوماسي اصولو غوښتنه دا وه چي د يوه هيواد صدراعظم بايد د بل متحابه هيواد د صدراعظم او يا لږ ترلږه د هغه د مرستيال سره يو تړون لاسليک کړي ، نه د سفارت د يوه عادي مامور ( اقتصادي مستشار ) سره . له دې نه مخکي ما چي صرف يو رئيس وم ، ددغه مستشار سره مي څو ځله اړين قراردادونه لاسليک کړی وه . خو دا ځل يې سيال د لاسپوڅي رژيم صدراعظم وو.

د يادولو وړ ده ، کله چي شورويانو د جګړې په ميدان کي خپله ماته وليدل ، وروسته يې د نوموړي قرارداد د فسخ کولو وړانديز وکړ او له نيکه مرغه تړون فسخ سو . د امريکا او انډيوالانو تر بريد وروسته د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال چی کله د چينايانو سره د عينک د قرارداد خبري کيدلې ، پدي هکله مي د کانو او صنايعو وزارت ته خپل نظر و ليږه . ښايي هغه به يې په پام کي نيولی وي او يا به د نوموړو مقاماتو خپل نظر همداسی وو ، خو په قرارداد کي د متالورژۍ موضوع راغلي ده ، نه د غني سازۍ . زه دا يوه د ستايلو وړ خبره بولم

د څلورمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ